# د کراچۍ د پښتنو خلاف يو بل سازش

حسن بونېرے

کراچۍ کۀ يو طرف ته د دنيا اووم لوئے ښار دے او د پاکستان يو معاشي حب (Hub) دے نو بل طرف ته دې ته په دنيا کښې د ابادۍ په لحاظ د پښتنو غټ ښار هم وئيلے شي. ولې چې 2002 د مردم شمارۍ مطابق کۀ د دې ښار ټوله ابادي يو نيم کروړ پورې ده نو د ابادياتو د يو طالبعلم په توګه زۀ دا خبره په دليل سره کوم چې په دې کښې د پښتنو شمېر د 45 لکو نه واخله تر پنځوسو 50 لکو پورې ضرور دے ولې چې د دې ښار هر درېم سړے پښتون دے.

دا شمېر د هغو پښتنو نه علاوه دے څوک چې هره ورځ د ټرانسپورټ په سلسله کښې دې ښار ته د کوئټې، پېښور يا د نورو پښتنو سيمو نه راځي او بيا واپس ځي.

يو طرف ته کۀ دا ټول پښتانۀ د زړۀ د اخلاصه د دې ښار او ملک په ابادۍ کښې خپله برخه ترلاسه کوي او د ښار په ودانۍ کښې ئې ډېره برخه ده نو بل اړخ ته دا پښتانۀ سياسي او معاشي طور هم سوکاله دي او دوي د ملک د نورو برخو د پښتنو په شان د پښتون قام په سياسي تحريکونو کښې برخه هم اخلي ولې دا ځل چې کله په کراچۍ کښې پښتانۀ يو سياسي قوت جوړ شو او د عوامي نېشنل پارټۍ په اول ځل د دې ښار ټول پښتانۀ د پښتون ايکشن کمېټۍ، پښتون لويه جرګې په شکل را يوځائے کړل او د هغې جرګې په دوهم جون 2006 کښې په اول ځل ټول ښار کښې د يو پرامن او کامياب هړتال نه پس په پينځلسم دسمبر 2006 يو کامياب هړتال وکړو چې په کښې ټول ښار بند شو نو ملکي او غېر ملکي مېډيا دا خبره په جار وکړه چې کراچې يوائې يو جماعت نه بلکې بل څوک هم بندولے شي، هم د هغې وجه وه چې په کراچۍ کښې ايم کيو ايم چې يو فاشسټ تنظيم دے دوي ته دې خبرونو ډېر زور ورکړو ولې چې د دوي دا دعوي وه



چې کراچي زمونږ ده او زمونږ نه بغیر ئې څوک نۀ شي بندولے، هغه د پښتو متل دے چې د یو اخوند بل اخوند بدي شي نو هم د هغې ورځې نه دوي د پښتنو خلاف سازشونه شروع کړل او بیا د دولسم مئ هغه ورځ دنیا ولیده چې هندو مسلمان شو خو خوئے ئې اوس هم لا هغسې د هندو دے او په زړۀ کښې ئې هیڅ رحم نشته، بې ګناه **48** تنه ئې ووژل او په هغې کښې **25** پښتانۀ وو، هم دغسې زخمیان وو، ولې د هغې نه وروستو چې کله د دولسم مئ د شهیدانو د کراچۍ د پښتنو اخلاص اتفاق د ټول ملک سره سره په اتلسمه فرورۍ په کراچۍ کښې هم ځان ښکاره کړو او په اول ځل ئې دوه پښتانۀ ممبران اسمبلۍ ته ولېږل چې یو په کښې وزیر هم شو نو د ایم کیو ایم په مشرانو لا نور هم اور بل شو او دوي د پښتنو خلاف نور نور سازشونه شروع کړل چې د لساني فساداتو دپاره ورته د طالبائزېشن ټکے ډېر ښۀ ښکاره شو او د دوي مشر الطاف حسېن دا خبره په مېډیا وکړه چې طالبان اوس په کراچۍ کښې هم شته او ډېر زر به کراچۍ قبضه کړي او د دې خبرې په سبوري کښې په یو ډېر منظم انداز کښې په



مهاجر اکثریتي سیمو کښې خپل وسله وال خلق ودرول او ورته ئې په خپل تقریر کښې خپلو خلقو ته د وسلې اخستلو سره سره د وسلې چلولو د زدکړې اعلان هم وکړو. دا په ښار د قبضې او د پښتنو سره د جنګ او د یو بین الاقوامي سازش برخه ده چې الطاف حسېن ئې عملي کوي. په کراچۍ ښار کښې تقریباً د یوې اندازې مطابق **25** زره دیني مدرسې دي چې پکښې د دنیا دوه لوئې اسلامي مدرسې جامعه بنوریه او دارالعلوم کراچي ډېرې مشهورې دي، دلته په زرګونو ماشومان سبق وائي. دلته د الطاف حسېن نه دا سوال پکار دے چې ایا دا دومره مدرسې دۀ ته په اول ځل دلته په نظر راغلې یا په یوه شپه کښې جوړې شوې، کۀ نه د دوي تنظیم ایم کیو ایم به مخکښې هم د دې مدرسې د طالبانو سره د قربانۍ په څرمنو جنګ کولو.

ولې دا ځل جنګ د څرمنو نۀ دے بلکې دا ځل جنګ په ښار د قبضې او د پښتنو سره د فساد کولو دے، هغوي د دې ځائے نه وېستل دي ځکه نو دوي د پښتنو خلاف د طالبائزېشن نعره پورته کړه، ولې دوي دې خبر شي چې پښتانۀ په کراچۍ کښې یو

قوت دے او کۀ څوک داسې خيال لري نو دا به د هغۀ هم خيال وي نور څۀ نۀ ځکه چې ستر خوشحال بابا خپلو نمسو ته وائي:

په جهان د ننګيالي دي دا دوه کاره
يا به وخوري ککرۍ يا به کامران شي

د کراچۍ او سندهـ پښتنو ته هم پکار دي چې په اتفاق او اتحاد سره په خپل ځان او قام نظر وساتي او د هر سازش خلاف ځان بېدار ولري ولې چې هر ځائے جنګ را په سر دے، د هر چا راته سترګې خړې دي، مونږ تر اوسه د چا کور هم نۀ دے وران کړے ولې هر سړے زمونږ د کور د ورانولو په کوشش کښې لګيا دے اخر ولې؟ د دې وجه څۀ ده سوچ پکار دے؟

يو طرف ته الطاف حسين او د هغۀ ملګري کوم چې په خپله د هندوستان نه راغلي دي دوي په صحيح توګه Migrated خلق يا مهاجر دي، دا غواړي چې کوم پښتانۀ د تعليم، کاروبار، يا نوکرۍ دپاره راځي يا راغلي دي، د دوي لار ونيسي او بله دا چې اوس د پښتنو په وطن کښې چې کوم اور بل دے له دې کبله کۀ کوم پښتانۀ کراچۍ يا سندهـ ته را روان دي د هغوي خلاف دا قسم پروپېګنډې به د هغوي مخنيوے وکړي ولې دا يو غلط سوچ دے.

دوي په خپلو رهائشي سيمو کښې د پښتنو هوټلونو، دوکانونو او نورو کاروبارونو ته زيان ورسولو او کمېټۍ ئې جوړې کړې ولې د دې په ځواب کښې پښتون اېکشن کمېټۍ او لويې جرګې، عوامي نېشنل پارټۍ هم کمېټۍ او د خلقو خصوصاً د پښتنو د تحفظ دپاره کوششونه وکړل او د ښار ټولو سيمو کښې ئې امن کمېټيانې جوړې کړې، اوس سوال دا دے کۀ چرې اېم کيو اېم په مرکزي حکومت کښې هم شامل شي نو ايا د هغې نه وروستو به هغوي په کراچۍ کښې دا قسم حالات بيا پېدا کول غواړي چې د دې ښار پښتانۀ تنګ کړي او د طالبائزېشن په نوم ورته حالات خراب کړي او دا ښار بيا د اور لمبه شي او مهاجر پښتون فسادات په کښې وکړے شي څنګه چې مخکښې شوي دي، د سوات، وزيرستان، باجوړ او خېبر نه پس خو د کراچۍ پښتنو ته يو بل د سازش نه ډکه تيارۀ خو پرته نۀ ده يا په دې ټول ملک کښې صرف پښتانۀ خو د خلقو د سترګو ازغي نۀ دي او کۀ دي نو ولې مونږ د چا کور وران کړے دے.

ولې دسائل صيب په ژبه چې:

د دنيا د ابادۍ دعوې دروغ دي
چې تر څو د پښتنو کورونه وران دي

نو دنيا کۀ هر څومره د آبادۍ کوشش وکړي خو چې زمونږ کور وران وي دنيا کله هم نۀ شي په امن کېدي.

